کړي، خو که مړی د احرام په حالت کې وي، نو هغه ته به په اوبو او بیرې باندې غسل ورکول کیږي، او په خپل لنگ او څادر یا بل څه کې به کفن ورکول کیږي، سر او مخ به یې نشي پټیدلی، او نه به وربانديې خوشبويي لگول کیږي؛ ځکه چې هغه به د قیامت په ورځ د تلبیه په حالت کې راپورته کیږي، لکه څنگه چې د رسول اللّه صلی اللّه علیه وسلم په حدیث کې ثابت شوی دی، که چیرې محرم ښځه وي، نو هغه د نورو ښځو په څیر کفن کیږي، مگر خوشبويي به ورته نه لگول کیږي، او نه به یې مخ په نقاب او نه لاسونه په دستکشو پوښول کیږي، مگر د هغې مخ او لاسونه په خپل کفن سره پوښل کیږي، لکه څنگه چې مخکې د ښځې د کفن کولو طریقه کې تشریح شوې وه.

**شپږم: تر ټولو مستحق کس چې مړي ته باید غسل ورکړي، او جنازه یې وکړي او ښخ یې کړي:**

هغه کسان چې مړي ته د غسل ورکولو، د جنازې لمونځ، او دفنولو مستحق دي: د هغه له خوا وصیت شوی کس، بیا پلار، بیا نیکه، بیا خپلوانو څخه ډیر نږدې او نږدې کس د نارینه وو په هکله.

د ښځې په اړه مستحق او غوره کسان: غسل لومړی د هغې له خوا وصیت شوی کس، بیا مور، بیا انا، بیا د هغې تر ټولو نږدې ښځه، او میړه او ښځه کولی شي یو بل ته غسل ورکړي؛ ځکه چې ابو بکر صدیق رضي اللّه عنه ته د هغه د میرمنې له خوا غسل ورکړل شو، او همدارنگه علي رضي اللّه عنه خپلې میرمنې فاطمې رضي اللّه عنها ته غسل ورکړ.

